ليکونکي : پاتريک کوکبرن (Patric Covkburn).
سرچينه او دخپريدو نيټه: کونتربونچ «۲۰۱۴-۱-۱۳»
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»

---

بی شميره مړی ، بی وزلي ، فساد اودطالبانو پاځول يا تحريکول

# هغه څه دي چي مونږ په افغانستان کی پلي کړل

# What We Did to Afghanistan

ما په کابل کی پنځه کا له د مخه دافغانستان ددولت ديوی سا زمان استا ذی (ويائد) خبرو ته کوم چی هغه دخيل سازمان دلاسته راوړو څخه خوښ نه وه ياهغی ته نوموړی لاسته راوړنه دقناعت وړ نه وه په ځير سره می ورته غوږ نيولی وه ، هغه ځما د يوی پوښتنی په ځواب کی کوم چی ما ورسره منلی وه چه دهغه هويت به پټ سا تم ، هغه د ا نتظار څخه وتلی اويا په غير منتظره بڼی سره داسی څرګندونه وکړ: له هغه وخته څخه چی نوموړی دولت د «ګانګسترانو اود جنګ سالارانو» تر ولېکی لاندی په دی اوږد موده کی ولويدلی هغه ګټی چی نوموړی دولت د افغانستان خلکو ته رسولی ډيرناچيز او ډير محد ود ګټی دي چی حتی دګوتو په شمار سره هم نه ارزي .

هغه څه چی ما په هغه وخت کی دخپل ځان سره فکر وکړ ما ته داسی را ښکاره شو چی دافغانستان ډيرعمده اورغنده ستونزی يواځی د طالبانو زور او قدرت نه بلکه پخپله ددغه دولت کمزورتيا اوناتوانی دی ، اودا په دی معنی چی دناتو دسرتيرو چی څه شمير دی هيڅ فرق نه کوی اويا دافغانستان داکثرو خلکو دپاره هيڅ داهميت وړ نه دی اوداځکه چی دغه سرتيری يواځی ددغه منفور دولت امنيت ساتی نه دافغانستان داکثرو خلکو مصونيت اوامنيت . ددی هيواد هره برخی ته چی ورغلم اوخلکو سره می وليد ځما دسترګی ليدلی حال يوشان ته وه اوهغه داچی د ناتو سرتيری يواخی ددی منفور دولت دواکدارانو دامنيت دنده ترسره کول نه دافغانستان دعامه خلکو امنيت اومصونيت .
حتی ما دډيرو هغو خلکو څخه کوم چي دهوسا ژوند خاوندان دی په وار وار واوريد چی هغوی هم له موجوده وضعی څخه سرټکاوه اوددی دولت دناتوانی څخه خبری کول ، ما دملکيتونو ديوی کارمند سره مرکه وکړ هغه چا سره چی ددی دولت څخه کوم چی دطالبانودرانسکوريدو څخه لس کاله دمخه رامينځته شوی کوم رغنده شکايت وا نه اوريد هغه وويل چی کابل دنړی له بل هر يو ښار څخه ډير په چټکی سره دودی اودپراخيدو په طرفه په مخه ځي ، اما بياهم هغه خپل سر دخپل دفتر له پنجری څخه دباندی وويستل اووويل : دلته زمونږ ځنی کارګران دورځی «۵» يا«۶» ډالر دستمزد ترلاسه کوی اما

دخپل کورنی دپاره د کابل په یو ډیر غریبانه ساحه کی یو کور دمیاشتی تر (۱۰۰۰) دالر پوری په کرایه نیسی چی دغه وضع هیڅ دزغم وړ نه دی اودغه وضع د یوی سرتاسری بد لون اوانقلاب غوښتونکي دی ترڅو چی خلک له دغه حالت څخه ووځي.
«۲۰۱۴» کال دافغانستان د پاره دډیروخلکو په اند یوتعین شوی یا برخه لیک ټاکونکي کال بلل شوی دي اودا ځکه چي اکثر هغه خارجی سرتیری کوم چی دافغانستان څخه دمخکینی ټاکل شوی مهال ویش په نظر کی نیولو سره وځی اوداچی دامریکی دمتحده ایالاتو له (۳۸۰۰۰) اود بریتانیا له (۵۲۰۰) سرتیرو دوتلو له جملی څخه بیاهم په څه شمیر سرتیری پاتی کیږی نودهغه د بشپړ اود ټاکلی نیتي اټکلول خپله به دیوی تاریخی مهم بدلون دپاره معمولاً له غلطی او اشتباه څخه به دبا ندی نه وی یا په بل عبارت د خارجی سرتیرو د وتلو اود با قما نده سرتیرو دنیتی مخکی دمخکی اټکلول پخپله په تاریخی لحاظ سره اشتباه اوغلط ګڼل کیږي اما په دی مورد کی دعمومی دود اودستور سره سم داسی وړاندیز پخپله بی له یو متعارف تعقل او هوښیارتیا څخه بل شی نه ګڼل کیږی اوداځکه چی اوس سمدستی په افغانستان کی اویا دافغانستان په اړه دځنو شد ید سیا سیی دریځونو نښی او نښانی لیدل کیږی لکه چی دافغانستان دولت په تیره اونی کی خپل دریځ د (۷۲) سخت دریځو طالبو با ند یا نو دآزادولو اعلامیه صا در کړ اودهغه په بنیاد په واشنګټن کی دیو شمیر ځواکمنو قهر اوغضب را وپارول ، اما هسی چی معلوم شوی دی ، موضوع دادی چی «حامد کرزی» دافغانستان جمهور ریس ددی بندیانو د آزادولو څخه رغنده هدف دادی چی هغه غواړی ترڅو دسیمیزو رهبرانو اودهغو پوری دتړلی حلقو ملاتړ تر لاسه کړی ترڅو وشی کړی چی داپریل میاشتي په ټولټاکنو کی د خپل خوښی نوما ند یا کا ند ید د پاره رای یا زیات « وټ » تر لاسه کړي او د خپل خوښی سره سم خپل ځای ناستی په قدرت ورسوی .
یوه بله مطلب چی دهغه یادونه دلته ډیرضرور ګڼل کیږي هغه دادي چي له افغانستان څخه دامریکی اودبریتا نیا دسرتیرو دوتلو ډیر مهم ځانګړی اغیزه یا انعکاس دلته دننه په امریکی اوبریتانیا کی څه ډول دي اوخلکو دهغه سره څه رنګ زړه ګرمی راښکاره کوي سره له هغه چی د کال (۲۰۰۱) څخه لاتر اوسه په دغه روانه جګړه کی (۲۸۰۶) امریکایی سرتیری او (۴۴۷) بریتا نوی سرتیری خپل ژوند دلاسه ورکړی دي او دامریکی د متحده ایالاتو له خوا هغه مقدار پیسی چي د دی جګړی د دوام ، د افغانستان دبیا رغونی او په ځنو نورو چاروکی لګول شوی په مجموعی توګه سره (۶۴۱،۷) ملیارد ډالر یا (۳۹۰) ملیارد پونډ سترلنګ اټکل شوی دی دغه مقدار پیسی په واشنګټن کی دبین المللی ستراتیژیکی مطالعاتو داداری له خوا په ډاګه شوی دي ، بی ویلو دی پا تي نشی چی دهمدی پیسو په لګولو سره بیاهم په افغانستان کی کومه ستر بدلون نه تر سترګو کیږی اوهغه لا څه چی دځنو احصایو له مخی اوس هم په افغانستان کی (۶۰) په سلو کی ماشومانو د لوږی سره لاس په ګریوان دی یواځی (۲۷) فیصد افغانی

کورنی صحی څکلو اوبو ته لاس رسی لری اواکثر کورنی خپل خرڅه د خپلو خپلوانو څخه چې په خارج کی ژوند کوی تر لاسه کوی اویا داچی دتاریاکود پیسو په راکړی اوورکړی سره ځان ژوندی ساتي داهغه مقدار پیسی دی چې دملی ناخالص تولید (GNP) تقریباً (۱۵) فیصد جوړوی .

دغه پورتنی ذکر شوی ارقام په افغانستان کی ددغه دولس کلن جګړی پایلی او دخارجی بین المللی قوتونو دلاس وهنی اومداخلی په ترڅ کی دننه په کابل کی دښاغلی توماس روتینګ(Thomas Rutting) تحلیلګردارزونی دشبکی دچارود مسول دڅېړنو پربنیادپه هراړخیز بڼی سره تاکل شوی دقیق ارقام دي ،هغه یعنی توماس دخپل مطالعاتو په ترڅ کی دافغانستان دننی وضعی په نظر کی نیولو سره داسی په ډاګه کوی چی دامریکی اودبریتانیا نظامی مداخله په افغانستان کی دخپل بشپړ ماتی وروستنی پړاونه وهی ، طالبانو دافغانستان ټولی برخی ته ماتی نه دی ورکړی یا په عبارت سره : طالبانو لاتراوسه دافغانستان ټول برخی ترخپل ولکی لاندی نه دی رواوستی، یادهغوی عملیاتونه لاپوره لاسته راوړنی نه لری،خو که چیری دهلمند له ولایت څخه امریکا یی اوبریتا نوی سرتیری پیښی سپکی کړی هغه ولایت به زردطالبانو تر ولکی لاندی به پریوځی حتی دباندنیو سرتیرو په ملاتړ اودافغانستان ددولت تر ولکی لاندی هغه ساحی چی دولایت له مرکز څخه څو کیلومتر لری پروت دی له یوسره به دطالبانوتر ولکی لاندی به را شی . په یاد مو باید راشی چی د امریکی د متحده ایالاتو د (۳۰۰۰۰) سرتیرو اوبیا د د نورو اضافی سرتیرو په لیږلو سره کوم چی دهغه مجموعی شمیر په کال (۲۰۱۰-۲۰۱۱) کی تر (۱۰۱۰۰۰) سرتیرو پوری رسیده بیاهم ونشو کړلی چی دافغانستان دغه جګړه ته دپای ټکی کیږدی .

د سیاسی ماهرانو په باور ډیرو په دی نظر دی چی دافغانستان په جګړه کی د بشپړ ماتی اصلی دلیل غلط نظامی تکتیک وه حال داچی ددی شکست اصلی اورغنده دلیل دامریکی د متحده ایالات اود بریتا نیا نا سم سیا سی چلن وه او دا پخپله ددی دواړو هیوادونو د ناکام سیاسی چلن پایلی ګڼل کیږي اوهغه داچی امریکی او بریتانیا به له دی چی په دی مورد کي یو څه ځیر شي په بیړه سره دطالبانو ددولت په نسکورولو باندی ډیر عاجل ګام پورته کړل حال داچی دطالبانو دحکومت له ړنګولو څخه مخکی په همغه وخت کی څلور رغنده نقطی ته باید پام اړولی وایي:

* هغه وخت طالبان دخلکو په مینځ کی چندان شهرت نه درلود یواځی کم خلک دهغو دنوم سره آشنا وه * طالبان خپل نظامی شکست دهغه څه په پرتله چی د هغوی هویت دغرب په مید یا کی ډنډوره شو نشو تعینولي اوداځکه چی دهغوی زیات شمیر دافغانستان څخه وتلی وه اوسره تیت اوپرک شوی وه لکه هغسی چی ما پخپله هغوی دوتلو په وخت کی له کا بله تر غزنی اوبیا تر قندهاره پوری څارل نو ما له کابله تر قندهاره

پوری په لاره کی دجنګ اودجګړی شد ت ونه لید اوداسی ښکاریدل چي طالبانو پوره ماتی خوړلی دي اما هغو د یوه ریښتینی سیا ست په تعقیب سره وتوانیدل چی له سره میدان ته ورودانګي ، داچی ولی هغوی بیا له سره ظاهر شو دهغه دلایل دا دی :

دافغانستان اود پا کستان ترمینځ د(۱۵۰۰) کیلومترو آزاد سرحد دیوی خوا اوبیا *پاکستان دهغو د پاره د د مه کولو او د نظامی زده کړی ډیر یو مصون اوخوندی ځای وه کوم چی طالبان وشو کړی چی خپل نظامی زده کړی پیاوړی کړی نوی نظامی تجهیزات د پاکستان په مرسته اودځنی نورومنابعو څخه تر لاسه کړی اودجنګ د پاره بیا د مبارزی میدان ته راودانګي چی دا ټول هغه څه دی کوم چي دامریکی متحده ایالات اودبریتانیا سیاستوالو په درنه خوب کی خوبونه لیدل اویا دچا په خبرو هندوانی شمیرل .

دپورتنی یادونو په نظرکی نیولو سره کوم چی دځلورم عامل پایله ګڼل کیږي ، طالبانو ډیر زر او په چټکي سره وروسته د کال (۲۰۰۶) څخه له سره په ډیر توانمندی اوپوره قدرت سره راښکاره شو اوهغه داچي په کابل کی دهغوی مخالف ډلی یعنی مخکینی جهادیان ، قوماندانان اودجنګسالارانو رژیم رامینځته شو کوم چی دماهیت له لحا ظه یو مفسد او له خشونته ډک رژیم په قدرت ورسید چی هغه ته دزهرجن رژیم نوم ورکول شوی چي داپخپله دطابانو دپاره دیو تحریک کونکی منبع په بڼه را واغوښت اوهغوی یعنی طالبانو هم ددغه زهرجن رژیم په وړاندی وروسته دکال (۱۹۹۶) څخه د پاکستان اودسعودی عربستان په مالی اوتخنیکی مرستو سره ځان تنظیم کړ اود هغوی استاذی وشو کړی چی دافغانستان په دولت ، پارلمان او قضایه ادارو کی ځای پیداکړی .

هغو ډلو ټپلو مجاهید ینو کوم چي په کال (۲۰۰۱) کی دطالبانو په ضد جګړه کی ښکیل شو اویا پخپله دهغو پر ضد په جګړه لاس پوری کړل نو هغه مقدار مالی یا نقده مرستی چی دامریکی د متحده ایالاتو څخه تر لاسه کړی وه ، هغه پیسي یی د مخدره موادو په راکړی اورکړی کی پانګونه وکړل اود دی پانګونی لاسته راغلی ګټی اوسود یا نقده پیسی د سپینا وی د پاره په قانونی بڼی سره په بانکداری ، ساختما نی ، معادن اونورو تجارتی برخو کی سرمایه ګذاری وکړل یعنی چی د مخدره موادو تور پیسی یی په سپینو پیسو واړول داهغه مطلب دی چی توماس روتینګ پخپل راپور کی په ډاګه کړي او هغه زیا توی چی دهمدی ډلو ټپلو د غیر قانونی اود بی مسولیتی په نتیجه کی په کال(۲۰۱۳) کی دافغانستان نوم د(۱۷۷) هیوادونو د یو مفسد دولت په بڼه د لست په اخرکی (دسومالیا اودشمالی کوریا سره برابر) ولیکل شو.

دطالبانو درژیم دنسکوریدو څخه وروسته دغه ننی واکمن لوړ پوړی چارواکی یا نخبګانو ته دشخصیت او دکریکتر په لحاظ دقاتل اویا د وژونکی اسلامی جهادی جنګ سالارانو نوم ورکړل شوی دي ، لکه هعسی چي دمیر حسین موسوی په نوم یو ورځپاڼی چلونکی دغه افغانی نخبګانو ته د (فاشیزم مقدس ) نوم یا لقب ورکړی وه کوم چی په کال (۲۰۰۳) کی د کابل په دوه ورځپانو کی دهغه مقاله دهمدی لغت په تذکر سره خپور

شوی وه ، چي وروسته له هغه نوموړی ورځپانه لیکونکی یعنی موسوی ددی نخبګانو له خوا داسلام دتوهین کولو په نوم تر تعقیب لاندی ونیول شو اوهغه مجبور شو چی له وطن څخه وتیښتی .

دتولټا کني په اوسنی حالت کی دانتخاباتوګټونکی درایو په غارت کولو اوپه جعلی بڼی سره مشروعت تر لاسه کوی یعنی دا نتخا باتو ګټونکی بی له جعل نشی کولی چی په مشروع بڼی سره انتخابات وګټی نو دهمدی دلیل په نظر کي نیولو سره ډیر احتمال لری چی د اپریل دمیاشتی (۲۰۱۴) کال انتخابات به د تیرو نورو کلنو دانتخاباتو په پرتله ډیر یوناوړی او بد ټولټاکني به وي ، او هغه داچي په افغا نستان دانتخاباتو مسول کسان تقریباً (۲۷،۷) میلیون درای ورکولو کارتونو دویشلو اماده ګی نیسی یعنی په داسی یو هیواد کی چی دهغه د (۲۷) میلیونو وګړو څخه نیمایی یی د(۱۸) کلنی څخه ښکته عمر لری او په انتخاباتو کی دګډون حق نه لری مخکی د مخکی د انتخاباتو د نظارت کونکو نهادونو تر څارنی لاندی راغلی دی کوم چی اوس ددولت تر نظر لاندی دی. نو په دی بڼه اودرای ورکونکو د انډول په نظر کی نیولو سره څه فکر کول پکار دی چی ایا دغه انتخابات به شفاف اوسي ؟

ددغو پورتنیو څو اړخیزو حوادثو اوپیښنو په موجودیت کی بیاهم غربی رهبران دافغانستان پر موجوده واقیعتونو باندی سترګی پټوی او چندان پام ورته نه اړوی اوپه عمدی بڼی سره له واقیعتونو څخه تښتی او ځان ددرواغو په لومه کی تړی او یا دخپل خوښی په خیالاتوکی دګټی اود سود خوبونه وینی کله چی داوید کا میرون ( David cameron) دبریتانیا لمړی وزیر په تیرد سمبر میاشت کی دهلمند له ولایت څخه لید نه کول داسی ادعا وکړ چی په دی ولایت کی امنیت په بشپړه توګه تامین شوی دي اوپه دی بڼه دبریتانیا سرتیری داحق لری وواېي چی زمونږ دنده دلته بشپړ شوی دي .

باید په یاد کی وساتل شی اوهغه داچي په افغانستان کی هیڅوک په دی خبرو باندی باورنه لری چی امنیت دلته اویاهلته تامین شوی دی ،اما یوه شی چی باید دقیقاً په یاد کی وساتل شی هغه دادی چی له افغانستان څخه د خارجی سرتیرو په وتلو سره حتمی او ضرور نه دی چی طا لبا ن دافغانستان ټول واک تر لاسه کړي له دی نه چي هغوی د پښتنو یو خودجوشه تحریک دی ، بلکه داسی باید فکر وشي چی طالبانو هم په هغه ځایونو کی چي هلته نور قومونو لکه تاجکان ، هزاره ګان او اذبکان ژوند کوی نشی کولای چی هغوی په زوره دځان تابع وګرځوی اویا هغوی تر خپل ولکی لاندی راوړي مګر دافغا نا نو اصلی ډار په دی کی دی چی د (۲۰۱۴) کال څخه وروسته نه چي بیا د وحشت اودبربریت دوره کوم چی په کال (۱۹۹۰)کی دغه جهادی ډلی تپلی پر افغانستان باندی واک چلول بیا له سره شروع نشی . اوپخپل مینځی جګړو سره دقدرت دتر لاسه کول په منظور بیا دکابل ښار په کنډوالو بدله نکړي . په درناوی